د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت (۱۳۰) تنو کارکوونکو لپاره د محاسبي او تأدیاتو برخو لس ورځنی روزنیز ورکشاپ پای ته ورسید

دوشنبه د ۱۴۰۵ کال د وږي ۳۰ مه

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د ډېټابېس او معلوماتو د سیستم ریاست له لوري د (۱۳۰) تنو مرکزي او ولایتي کارکوونکو لپاره د نوي برېښنايي سیستم اړوند د محاسبي او تأدیاتو برخو کې لس ورځنی روزنیز ورکشاپ پیل شوی وو، په دې ورکشاپ کې اړوند کارکوونکو ته د مجربو استادانو لخوا زده کړې ورکړل شوې او نن د تصدیق پاڼو په وېشلو سره یاد روزنیز ورکشاپ په بریالیتوب سره پای ته ورسید.

د دې ورکشاپ په اختتامیه غونډه کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند، د شهیدانو او معلولینو چارو مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني، د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان، یو شمېر نورو محترمو رئیسانو، آمرینو او اړوندو کارکوونکو حضور درلود.

په دې پروګرام کې محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني وویل چې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت رهبري د تېرو څلورو کلونو په ترځ کې هڅه کوله، څو د یتیمانو، کونډو او معلولینو میاشتني نغدي مساعدتونه د سیستم له لارې حواله او ووېشل شي. د الله تعالی جل جلاله په فضل، سږکال وتوانېدو چې د سیستم له لارې نغدي مساعدتونه حواله کړو، چې دا زموږ لپاره د سعادت او خوښي ځای دی.

هغه همداراز کارکوونکو ته سپارښتنه وکړه چې له دې اړمن قشر سره په ډېره ښه رویه، نرمي او درناوي چلند وکړي؛ ځکه د دوی او د الله تعالی جل جلاله ترمنځ هېڅ پرده نشته. نوموړي یادونه وکړه چې د دې نظام د بریالیتوب له معنوي اسبابو څخه یو همدا یتیمان، کونډې او معلولین دي، نو باید د دوی په حق کې هېڅ ډول سهل‌انګاري او حق‌تلفي ونشي.

محترم شیخ صاحب د ورکشاپ ګډونوالو ته وویل چې خپل صورت او سیرت د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له مبارک سیرت او اخلاقو سره برابر کړي، سپارل شوې چارې امانت وګڼي او هغه خدمت چې ترسره کوي، امتیاز یې ونه ګڼي؛ بلکې د دنیا او آخرت د نېکمرغۍ، اجر او ثواب وسیله یې وګرځوي.

نوموړي همداراز ټینګار وکړ چې کارکوونکي دې د وخت ډېر خیال وساتي، خپل مسؤلیتونه په ټاکلي وخت ترسره کړي او د خلکو د چارو په ترسره کولو کې دې هېڅ ډول ځنډ، بې‌پروایي او سهل‌انګاري ونه کړي.

وروسته محترم مولوي کلیم الله افغان د ورکشاپ ګډونوالو ته د نوي برېښنايي سیستم د اهمیت په هکله هر اړخیزه وینا وکړه او وې ویل د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له لوري په مرکز او ولایتونو کې د ثبت شویو یتیمانو، کونډو او معلولینو شمېر شاوخوا اووه (۷) لکه کسانو ته رسېږي، چې په دې ډله کې څلور (۴) لکه یتیمان، دوه (۲) لکه معلولین او شاوخوا یو لک کونډې شاملې دي.

هغه له کارکوونکو وغوښتل چې د سپارل شویو مسؤلیتونو په ترسره کولو کې هېڅ ډول غفلت، بې‌پروایي او سهل انګاري ونه کړي، ځکه دا یوازې د معلوماتو د ثبت او انتقال موضوع نه ده، بلکې د زرګونو یتیمانو، کونډو او معلولینو له حقونو سره مستقیم تړاو لري. هره شمېره، هر نوم او هر معلومات باید په پوره دقت وکتل شي او له موجودو اسنادو سره سم ثبت شي.

محترم مولوي کلیم الله افغان وویل چې دغه برېښنايي سیستم د وزارت لپاره یو مهم او اساسي ګام دی. د خوښی ځای دی چې په (۲۲) پاتې ولایتونو کې هم د نوي برېښنايي سیستم د محاسبي او تأدیاتو برخې فعالېږي، چې له دې سره به د مستحقینو د معلوماتو تنظیم او د مساعدتونو د پروسې مدیریت لا منظم او اسانه شي.

همداراز د دې وزارت د کارکوونکو د چارو رئیس محترم مولوي محمد موسی صدیقي د ورکشاپ د اهمیت په اړه خبرې وکړې او ویې ویل کومې دندې او مسؤلیتونه چې موږ ته راسپارل کېږي، باید پوهه او مهارتونه یې ترلاسه او په خپلو ورځنیو چارو کې یې په سمه توګه عملي کړو.

ورکشاپ آموزشی بخش های محاسبه و تأدیات برای (۱۳۰) تن از کارمندان وزارت امور شهداء و معلولین با مؤفقیت به پایان رسید

دوشنبه ۳۰ سنبله ۱۴۰۵

ریاست دیتابیس و سیستم معلومات وزارت امور شهداء و معلولین ورکشاپ آموزشی ده روزه را در بخش‌های محاسبه و تأدیات در سیستم جدید الکترونیکی برای (۱۳۰) تن از کارمندان مرکزی و ولایتی برگزار نموده بود، که در آن از سوی استادان مجرب به کارمندان بخش های مربوطه آموزش داده شد و امروز این ورکشاپ با تفویض تصدیق نامه‌ها به اشتراک‌کنندگان با موفقیت به پایان رسید.

در برنامۀ اختتامیه این ورکشاپ، محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند معین مسلکی و تخنیکی، محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقانی معین امور شهداء و معلولین، محترم مولوي کلیم الله افغان رئیس عمومي مالی و اداری، رؤسای محترم، آمرین و کارمندان بخش های مربوطه حضور داشتند.

در این برنامه محترم شیخ عبدالحکیم حقانی پیرامون اهمیت سیستم جدید الکترونیکی صحبت نموده افزود که رهبری وزارت امور شهدا و معلولین طی چهار سال گذشته تلاش کرده است تا مساعدت‌های نقدی ماهانه ایتام، خانم های بیوه و معلولین از طریق سیستم حواله و توزیع گردد. به فضل خداوند متعال جل جلاله امسال توانستیم مساعدت‌های نقدی را از طریق سیستم حواله نماییم که این برای ما جای بسا خوشی و سعادت است.

معین محترم امور شهداء و معلولین به کارمندان توصیه نمود که با قشر ایتام، خانم های بیوه و معلولین با برخورد نیک و احترام رفتار نمایند، زیرا میان آنان و خداوند متعال جل جلاله هیچ حایل و پردۀ وجود ندارد و یکی از اسباب معنوی موفقیت این نظام، همین ایتام، خانم های بیوه و معلولین هستند، بنابر این نباید در حق آنان هیچ‌گونه سهل‌انگاری و حق‌تلفی صورت گیرد.

محترم شیخ صاحب به اشتراک‌کنندگان ورکشاپ گفت که صورت و سیرت خود را با سیرت و اخلاق مبارک پیامبر اکرم صلی‌الله علیه وسلم برابر سازند، امور سپرده‌شده را امانت بدانند و خدمتی را که انجام می‌دهند، امتیاز تلقی نکنند، بلکه آن را وسیلۀ سعادت دنیا و آخرت و کسب اجر و ثواب قرار دهند، توجه جدی به وقت خویش داشته باشند، مسؤلیت‌های خود را در زمان تعیین شده انجام دهند و در رسیدگی به امور مردم هیچ‌گونه تأخیر، بی‌پروایی و سهل‌انگاری نکنند.

سپس محترم مولوی کلیم الله افغان در مورد اهمیت سیستم جدید الکترونیکی به اشتراک‌کنندگان ورکشاپ سخنرانی همه‌جانبۀ ارایه نموده افزود تا اکنون حدود (۷) لک تن از ایتام، خانم های بیوه و افراد دارای معلولیت در وزارت امور شهداء و معلولین ثبت شده است که از آن جمله (۴) لک آنان ایتام، (۲) لک معلول و بیش از یکصدهزار تن از خانم های بیوه می باشد.

موصوف از کارمندان خواست تا در انجام مسؤولیت‌های سپرده‌شده هیچ‌گونه غفلت، بی‌پروایی و سهل‌انگاری نکنند، زیرا این موضوع تنها ثبت و انتقال معلومات نیست، بلکه مستقیماً با حقوق هزاران یتیم، بیوه و معلول ارتباط دارد. هر شماره، هر نام و هر معلومات باید با دقت کامل بررسی و مطابق اسناد موجود ثبت گردد.

محترم مولوی کلیم‌الله افغان، سیستم الکترونیکی جدید را یک گام مهم و اساسی برای وزارت دانست و گفت که جای خرسندی است که بخش‌های محاسبه و تأدیات در (۲۲) ولایات نیز فعال می‌گردد. با این اقدام، تنظیم معلومات مستحقین و مدیریت روند مساعدت‌ها منظم‌تر و آسان‌تر خواهد شد.

همچنان محترم مولوی محمد موسی صدیقی رئیس امور کارکنان این وزارت، در مورد اهمیت ورکشاپ صحبت نموده و افزود که هر وظیفه و مسؤلیتی که به ما سپرده می‌شود، باید دانش و مهارت‌های مربوط به آن را به‌خوبی فرا بگیریم و آن را در امور روزمره خویش به‌گونۀ درست عملی سازیم.